ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-33

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**حماد عابد**
ایم فل اسکالر، شعبہ پشتو، عبدالولی خان یونیورسٹی مردان، خیبر پختون خواہ۔
**ڈاکٹر سید ظفر اللہ بخشالے**
اسسٹنٹ پروفیسر، شعبہ پشتو، عبدالولی خان یونیورسٹی مردان، خیبر پختون خواہ۔
**مس نگینہ بی بی**
لیکچرار، شعبہ پشتو، عبدالولی خان یونیورسٹی مردان، خیبر پختون خواہ

# ډاکټر درویش یوسفزے د خپل عصر یو مزاحمتي شاعر

**Hammad Abid**
MPhil Scholar, Department of Pashto, AWKUM, Khyber Pakhtunkhwa.
**Dr. Syed Zafar Ullah Bakhshali**
Assistant Professor, Department of Pashto, AWKUM, Khyber Pakhtunkhwa.
**Ms. Nagina Bibi**
**Lecturer**, Department of Pashto, AWKUM, Khyber Pakhtunkhwa

**Corresponding Author:**

# Resistance and Satire in the Poetry of Dr. Drwaish Yousafzai

***Abstract***
Dr. Drwaish Yousafzai, a prominent poet and writer from Mardan, is a leading resistance voice in modern Pashto literature. A medical doctor by profession, he combines empathy for the underprivileged with literary expression. His poetry centers on his homeland, the Pashtun nation, and the struggles of marginalized laborers. With intellectual depth and artistic richness, his work amplifies oppressed voices, making resistance and social consciousness the defining tones of his literary contributions.

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-33



**Key Words:** *Dr. Drwaish Yousafzai, Modern Pashto literature, Resistance poetry, Pashtun nation, Marginalized laborers, Social consciousness.*

ډاکټر درویش یوسفزے د مردان د ادبي فضا هغه ساهو شاعر ادیب دے چې د پښتو په جدیده شاعرۍ کښې یو ځلنده نوم لري . د خپلې مزاحمتي شاعرۍ په اساس د خپل عصر یو نمائنده مزاحمتي شاعر ګڼلے شي . هغه کۀ هر څو د پېشې په لحاظ د مېډیکل ډاکټر دے ولې د خپل قام د بد بختۍ ادراک هغوي د خپل حساس ضمیر اؤ ژورې مشاهدې په زور کړے دے د وخت اؤ حالاتو په نبض ئې ګوتې لکه د یو ماهر طبیب کېښودي دي . اؤ د هغه بیمارو تشخیص ئې سره د علاجه قام ته ښودلے دے . د کوم د لامله چې د دوي قامي صحت متاثر شوے دے . درویش یوسفزي ټول عمر د خپل خوار او تس نس اولس همدردي په خپل زړۀ کښې لرلې ده . ددوي د شاعرۍ اصل محور د خپل وطن د ودانۍ ،د پښتون قام د ښېرازۍ ، د مظلومې اؤ خوارې کښې طبقې نمائندګي اؤ د ازادۍ لیتکے بلؤل دي . اؤ د هر مظلوم د زړۀ اواز دے دغه احساس ئې د قلم په څوکه خپل اولس ته وړاندې کړے دے د دوي په شاعرۍ کښې د فن اؤ فکر په لحاظ رنګونه په نظر راځي خو ولې هغه په ادب کښې د مقصدي ادب پلوي دے اؤ هم لۀ دغه وجې د ډاکټر درویش یوسفزي په شاعرۍ د مزاحمت رنګ غالب دے . د دوي په مزاحمتي شاعرۍ د وړاندې خبرې کولو نه اګاهو د لفظ مزاحمت په معنې لږه شان رڼا اچوو اؤ بیا راځو مزاحمتي شاعرۍ لۀ پس د هغې به د درویش یوسفزي په شاعرۍ د مزاحمت په رڼا کښې خبره کوو.

مزاحمت په لغت کښې ایسارؤلو ،خنډ جوړېدلو اؤ منع کولو ته وائي

فېروز اللغات اردو د مزاحمت معنې څه په دا رنګ بیانوي .

,،روک -ممانعت،،۱

مزاحمت مقابلې ،ایسارؤنې اؤ اړې ته وائي۲

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-33



ریخته د مزاحمت د معنی په حقله خپل موقف داسي وړاندي کوي.

روکنے کا عمل، روک ٹوک، روکاوٹ، ممانعت، تعریض،،۳

په اصطلاح کښي مزاحمت نه د یو ناخوښ فعل په لار کښي شعوري طور خنډ جوړېدل اؤ داسي فعل کونکے په لاس سره (عمل سره) منع کولو ته مزاحمت وئیلے شي. مزاحمت ژوند دے او د انساني تولني د بقا تول دارومدار په مزاحمت اډانه دے کۀ چرې د یؤ قام په خپل کښي د غاصبو قوتونو په خلاف د مزاحمت نه لاس په سر شي نو لرې نۀ ده ې دغه تولنه اؤ قام د بربادی په لور په تندی سره روانه شي په دې حقله ډاکټر حنیف خلیل وائي

مزاحمت د ژوند د حرارت
نوم دے د انساني مزاج یو
کېفیت ،یوه رویه اؤ یو
عمل دے او په ژوند کښي د
دې رویي اؤ عمل څه عکس یو
اهنګ نۀ وي نو جمود اؤ
مرګ به ئې مقدر وي ،،۴

زمونږ ځیني خلق مذمت اؤ مزاحمت یو څیز ګڼي حالانکې داسي نۀ ده د دواړو تر مېنځه توپیر دے خو ولې ډېر باریک دے مذمت د یو ناخوښه فعل (عمل) په لفظي بڼه غندل یا ورته بد کتلو ته وائي خو مزاحمت د ناخوښه اؤ تخریبي عمل پر ضد عملي طور ګامونو پورته کولو ته وائي او د هغې تر مېنځه خنډ جوړېدلو ته وائي .په دې حقله سماجي مفکر ډاکټر خالق زیار وائي.

مونږشاعرانو اؤ ادیبانو په
دې موجوده بحران کښي ډېر
لوے لاس لرلے دے تیک ده خلق
به په کښي په شا شوي هم وي
خو اکثریت ئې هم دغسي خبره

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-33


> کړي ده چې مونږ سره زياتې کېږي د مذمت د مرحلې پورې څه ته چې څه ته چې condemnation وائي خو زه وس داسې محسوسوم چې خبره دې ځائې له راورسېدلې ده چې وس په مذمت يواځې خبره نه کېږي وس به مزاحمت کول غواړي او د دې دواړو ټکو مېنځ کښې لږ غوندې فرق شته مذمت دا دے چې چې زما دا خبره نه ده خوښه او مزاحمت دا دے چې زۀ تا دې خبرې ته نه پرېږدم،، ۵

د پورته ذکر شوې حوالو په رڼا کښې که مونږ د مزاحمت يو جامع او کوټلے تعريف کوؤ نو هغه به دا وي چې د ناوړي عمل په مقابله کښې شعوري طور خنډ جوړېدل او د هغې په مقابله کښې عملي طور خپل کردار لوبولو ته مزاحمت وئيلے شي.

که مونږ د پښتو ادب په تاريخ لنډ شان نظر واچوؤ نو دا خبره به ترې په واضحه توګه څرګنده شي چې پښتو ادب د ابتدا نه په خپله ګېډه کښې مزاحمت له ځائے ورکړے دے په ابتدائي دور کښې د شيخ کټه متي زي ، اکبر زمين داور او دغه رنګ د دغه دور په ځينې نورو شاعرانو کښې د مزاحمت څرکونه په نظر راځي د دې نه پس د روښاني مکتب فکر په شاعرانو کښې هم دغه تسلسل راروان دے هر څو که دغه مکتب په شاعرۍ د مذهب او اخلاقياتو ژورې اغېزې څرګندې ليدے شي ولې بيا هم په کښې د مزاحمت څه نا څه اثار په نظر راځي د دې نه پس ستر خوشحال چې د دريم دور په شاعرانو کښې راځي د دوي په کلام کښې د مزاحمت داسې انداز له ورايه ليدلے کېږي چې په نورو شاعرانو کښې ئې ليدل ناممکن دي.

خوشحال بابا چې کله د فعل منصب ته په مخه ښه اووئيل نو د هغې سره ئې سم ئې د فعل پر ضد

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-33
ماخذ تحقیقی مجلہ

عملي جدوجهد او مبارزې ته دوام ورکړو دغه رنګ ئې د شعر ژبه هم مزاحمت سره په شعوري توګه اشنا کړۀ او پښتنو ته ئې د شعر په رنګينه ژبه د مزاحمت درس ورکړو چې د دوي په شاعرۍ کښې ځائے په ځائے په نظر راځي د دې نه علاوه رحمان بابا هم کۀ هر څو د اخلاقي مبلغ په توګه پېژنده شي ولې د دوی د دوي شاعري هم د مزاحمت په ښکالو سينګار ده دغه رنګ پښتو ادب په جديد دور کښې هم ډېر مزاحمتي ليکونکي پېدا کړي دي چې په کښې اجمل خټک ، سلېمان لائق ، صاحب شاه صابر ، قلندر مومند ، اندېش شمس القمر ، رحمت شاه سائل ، نورالبشر نويد ، ډاکټر خالق زيار ، د يادونې وړ دي. هم دغه رنګ د دې مزاحمتي ليکونکيو په صف کښې يوه معتبره نامه د مردان ګمبت سره تعلق لرونکي ډاکټر ﷴ درويش يوسفزي ده.

ډاکټر درويش يوسفزے په کال ۱۹٤٥ء د دسمبر د مياشتې په اتلسمه نېټه د عنايت خان کره سترګې اوغړولې د تس نس او تالا ترغه پښتنو چې هغه په قلم اوچتولو مجبور کړو نو د دې وطن د خاورې مبارزه ئې په داسې هنر او مهارت سره اوکړه چې د وخت هر عاصب او يرغلګر په وړاندې ئې پښتون هوډ داسې مستقيم کړو لکه د خزان پر ضد د پېپل د ونې په شان. هغه د هر استعمار د سترګو ازغے دے ځکه چې هغه د خپل قلم په زور د پښتنو ته د دغه استعمار په ضد د مزاحمت کولو درس ورکړے دے او يوائې درس نه بلکې تګ او تګ لاره ئې ورته هم وضع کړې ده.

ازادي د هر زنده سري په ابتدائي حقوقو کښې يوه ده چې د ټولو حقوقو نه وړومبے او مهمه ده د دغې ازادۍ دپاره چې هغه هر څو لفظي کوشش د غزل او د چاربېتې په ژبه کړے دے خو ولې چې په دې راز پوهه شوے دے چې اوس په دې نۀ کېږي بلکې عملي ګوابنونو ته اړتيا لري نو وائي.

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-33



نه په چاربېته اوشوه نۀ
په غزل باندې
نۀ په پوهنه اوشوه نۀ په
چل ول باندې
د پښتونخوا دا کونڅی به
سپړي کوم ښاغلے
په سرښندنه باندې په يو
توکل باندې ،،۶

د استحصالي قوتونو تر ټولو وړومبے ګواښ د کمزورو قومونو په ازادی باندې وي ځکه چې هغوي په دې راز خبر وي چې دغه قومونه مونږ تر څو محکومه او غلامان کړي نۀ وي نو مونږ د دوي په وسائلو باندې نۀ شو قابض کېدے نو اول ګام د دوي نه د ازادی تروړل وي اؤ بيا ئې د وسائلو لوټ تالان شروع شي دذوېش يوسفزے خپل قام ته د استعمار دا چال وړاندې کوي او د مزاحمت چل ورته هم ښائي۔

اوسني هم لکه د انګرېږ
لکه چنګېز اوګڼه
که شي فرعون نوے سامراج
نو ده عصا خپلواکي،،۷

مزاحمت د خپلې ټولنې او خپل ژوند د بقا دپاره لازمي توکے دے که چرې د غليم نه انتقام وانخيستلے شي نو هغه په ظلم کولو کښې زړه ور شي او بيا همېش دغه خپل د ظلم ناوړے عمل بيا بيا کوي خو ولې ډاکټر دروېش يوسفزے خپل او د خپل قام دشمن ته وائي چې چې دا هسې ستا خام خيالي ده چې تا مونږ وژلو بې کوره دې کړو او ته به په ارام ژوند اوکړې بلکې زۀ به انتقام اخلم او ضرور به ستا د ظلم جواب په مزاحمت سره درکوم انتقام نومې نظم کښې دا راز داسې بيانوي۔

هغه ظالم چې ئې زما
جونګړه اوسېزله

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-33

لـري دا تـمـه چې مـانـړۍ سلامت
پـاتـې شي
کـومـو لاسونـو چې زمـا شړۍ
رېـښې رېـښې کـړه
کچه خيـالـونـه دي چې شال ئـې
سلامت پـاتـې شي ،،۸

غاصب او استعماري قـوتـونـه چې پـه کـوم وطن کښې خپـلې جرړې ښخې کـړې نـو د هغـه قـومـونـو چې دوي مـحکوم کـړي وي يـا ئـې مـحکوم کـول غواړي نـو اول د هغوي تـهذيب او تـمدن د خاورو لانـدې کـړي دي د ژونـد ژواک پـه طريـقـو کښې ئـې تـخريـبـې او زيـان رسوونـکـے بـدلـون راولـي او ډېـر پـه هنر سره دا کـار تـرسره کـوي چې ورو ورو د هغه قـام پـه خپل کـلـتـور واخلي درويش يـوسفـزے خپل قـام تـه وائـي چې ستـاسو پـه تـهذيب داسې يـرغل شروع دے چې هغه کـوکې وهي لـه درده پـاسئ او خپل سمـاج د دغه يـرغلـګرو د کـومې نـه ازاد کـړئ.

اوکـړئ تـوکل يـو ، ځـوانـانـو پـورتـه شئ
لـه تـورو سمستـو ، پـړانـګـانـو پـورتـه شئ
سړيـتـوب کـريـکـې وهي تـهذيـب ژړېـږي دلـتـه
د روڼ ښاغلي فـکـر ، دوستـانـو پـورتـه
شئ،،۹

درويـش يـوسفـزي د وخت پـه حرکت بـانـدې پـوهـه دے چې زمـا د قـام د بـربـادۍ پـه لـور روان دے او استـحصالـي قـوتـونـه ټـول يـو صلح شوي دي او زمـونـږ نـه زمـونـږ حقـوق تـروړي پـه دې اساس زمـونـږ قـامـي اتـحاد مـنظم کـول پـکـار دي اؤ پـه دغه استعماري قـوتـونـو پـه يـو ځـائـے ګـواښونـه کـول پـکـار دي.

ګـردش د ستـورو ، بـيـا څـه بـدل دے
د چـرخ چـورلـک کښې ښکـاره خلل دے
رنـګـونـه اوړي ، راوړي پـه مـزکـه
مـلـګـرو يـو شئ ، وخت د يـرغل
دے،، ۱۰

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-33
ماخذ تحقیقی مجلہ

مزاحمتي ليکوالانو په هر انقلاب کښې ډېر لوے لاس لرلے دے د خپل اودۀ قام شعور ئې بېدار کړے دے اؤ د استعماري قوتونو په مقابله کښې ئې دوي ته د اوربدو همت وربخښلے دے هم دغه وجه ده چې کله هم يرغلګر راغلي دي د دغه ټولنې په مزاحمتي ليکونکيو ئې نظر ساتلے دے دوي ئې د مختلف ستونځو سره مخ کړي دي ځکه چې هغوي په دې خبره باوري وي چې دا زمونږ په لاره کښې خنډ جوړېږي او نور خلق هم د خپل قلم په زور د بېدارولو توان لري خو ولې درويش يوسفزے د استعمار دغه اذيتونو ته په رونړ تندي هرکلے وائي خو د خپلې مدعا نه لاس په کېږدي نه هغه په دې راز پوهه دے چې کۀ استعمار لوے سازو سامان دے د تخريب او بربادۍ بلها وسلې لري په هر قسمه وسله پوره دے خو زما سره هم يوه وسله د قلم په شکل کښې موجود ده او چې تر څو دا وسله او زما ګوتې سلامت وي نو دوي به خپله مدعا سرکولو ته پرېږدم نۀ.

لا خو قلم سره مې ګوتې قلم
شوي نۀ دي
لا خو لاسونو کښې زما يوه
وسله پاتې ده،،۱۱

پښتانه اکثريت د نرم زړه خاوندان دي د جنګ ، مرګ ژوبلې نه کرکه کوي خو ولې ځيني وختونه داسې راشي چې په نرمۍ سره کار نۀ کېږي او د حالاتو تقاضا دا وي چې اوس د نرمۍ نه د سنګدلۍ وخت دے هر کله چې د تخريب کاره عناصرو د بدو نه خپل ځان محفوظ ساتل غواړي نو دې دپاره به ته هم د هغه په څېر د بدو نه کار اخلي او هم هغه رويه به د هغه سره خپلوي کومه چې استعماري قوتونه له تا سره روا ساتي درويش يوسفزے هم وائي چې که د دې دور د جبر نه ځان ساتل غواړي نو نرمي پرېږده او سنګدله شه په خپلو وسائلو باندې نور خلق بلو څېدو سره مه

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-33



پرېږده او چې کوم خلق ستاسو په وسائلو بلوڅېدل غواړي نو د خپلې پښتو په لشه ئې داسې مقابله اوکړي چې بيا دپاره د داسې کولو سوچ هم اونۀ کړي.

د سنګدل دور له بد لاسه که
سالم غواړې ځان
د نرمۍ وخت نه دے سينه کښې
زړۀ سنګين پېدا کړه
اے د خېبر مچی لشه بيا د
پښتو نېغه کړه
په خپلو غرونو او غارونو
کښې ګبين پېدا کړه،، ۱۲

درويش يوسفزے خپل پښتون هوډ په هېس جوړ ماتولو ته تيار نۀ دے هغه د غاصب په وړاندې نورو ته هم د مزاحمت درس ورکوي او وائي چې ژوند د عزت پکار دے که چرې عزت دې په ځائے کښې نه وي نو ژوند دې هېس معنی نه لري ځکه وائي چې د يرغلګرو په وړاندې د جرأت لمن ټينګه اونيسئ او د خپل عزت نه کامراني او ژوند قرباني ځار کړئ.

ژوند زمونږه عبادت دے له
جرأته
کامراني يا قرباني ځار تر
عزته،،۱۳

هر هغه ځوک چې د پښتون قام د ازادی په لاره کښې خنډ جوړېږي د دوي نه د خپلواکۍ حق تروړي نو درويش يوسفزے د هغوي په ضد يو داسې چغه د خپل قلم په زور پورته کوي چې د ځان سره سره نور هم د انقلاب په لور راکاږي درويش يوسفزے وائي چې دوۀ خبرې دي يا به د ازادی بېرغ په لاس يم او يا به خپل ژوند د دغه ازادی د سره ځار کړم خو په شا کېدو ته تيار نۀ يم او نه دريمه لار شته.

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-33


یا به بېرغ د ازادۍ په
مانړۍ جګ اونیسم
یا به تاریخ کښې کړمه
خپله هستي ګډه وډه،، ۱۴

پښتانه پخوا راسې د عدم تشدد پلویان دي د تشدد څخه کرکه کوي خو ولې کله چې غاصب او سلبي کردارونه د ظلم او جبر ټول حدونه تېر کړي اؤ دوي ته اندازه وشي چې وس خبره د مذمت نه د مزاحمت د لارې د حل کولو وخت دے نو بیا د خپلې بقا دپاره د هیڅ قسمه قربانۍ نه مخ نۀ اړوي او څنګه به مخ اړوي چې ستر خوشحال هم ورته قدم په قدم د جرأت او شجاعت درس ورکړے دے او د هغوي ادبي وارثان ئې د سر په بدل روزنه کوي ډاکټر درویش یوسفزے چې هم کله د استعماري قوتونو په بدو نیتونو پوهه شوے دے نو خپل قام ته ئې د ازادۍ درس ورکړے دے او د وسله والې مبارزې کولو ضرورت ئې ورته په ګوته کړے دے درویش یوسفزے که هر څو د عدم تشدد د نظرېې پلوي او د باچا خان سپاهي دے خو ولې هغه په دې راز پوهه دے چې وسله وال مبارزه د نن وخت اهمه تقاضا ده او هغوي دا د خپلې بقا واحد لاره ګڼي خپل قام ته وائي چې د سیاسي مشرانو په خوږو او جذباتي نعرو مه تېروځئ بلکې د سامراجیانو په خپله مزاحمت اوکړئ او لکه د هغوي خپل ځان په وسله پور کړئ ځکه چې د سازمان سره په تش لاس جنګ کول لویه احمقي ده.

دا تقریرونه دا جلوسونه
ټول دي چلونه ټول دي دامونه
که ژوندون غواړې ټوپک ته لاس کړه
ګڼي ورکېږي ساده پښتونه،، ۱۵

لنډه دا چې درویش یوسفزے د خپل وخت یو نمائنده مزاحمتي شاعر دے چې هغه د وخت په نبض لکه د طبیب غوندې ګوتې کېښودې دي او د هغې په تقاضا ئې اول خپل ځان پوهه کړے دے او بیا ئې

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-33



خپل اولس په ډېر هنر سره د وخت د نوي تقاضو ، د هر نوي تحريک کار په نېت او هر استحصالي قوت په خوئي بوي پوهه کړے دے او د هغوي په ضد ئې ورته د مزاحمت د تګ او تګ لاره وضع کړې ده ,, اواز ،، نومې نظم کښې ئې خپل قام هم د دغه پورته مذکور څيزونو او کردارونو په حقله خبر کړے دے دلته دغه نظم د حوالې په توګه وړاندې کوو او دې سره خپل بحث هم پائې ته رسوو .

زما د دور پښتنو د وخت
اواز واورئ
ستاسو په لاس کښې د سيالی
د ارتقاء واګې دي
د فېصلې وخت دے په لاس مو
د قضا واګې دي
دا فلسفې نوي ، قيصې نوې
، فکرونه نوي
نوي چلونه دي ، دښمن نوے
جالونه نوي
د خپل اولس دا بدحالي او
انتشار اووينئ
هره تږته ، ذره او کانے
درته چغې وهي
د خپل تاريخ ټولې سرې
پاڼې درته چغې وهي
سرونه پورته کړئ سرونو له
تاجونه ډېر دي
په کائنات کښې ارومرو له
څنګلونه ډېر دي
غرونه دې لېچې خورې کړې
درته راز واورئ
زما د دور پښتنو د وخت
اواز واورئ،،۱۶

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 1, (Jan to March 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-I)urdu-33
ماخذ تحقیقی مجلہ

## حوالہ جات


١.فیروزالغات ، اردو جامع لاهور ، فیروز سنټر لمټیټډ ، کال ١٩٨٩ء ،مخ 630
٢.تاج الغات پښتو ، مشتاق مجروح یوسفزے ، تاج کمپني لمټېډ پېښور ، مخ ۶۴۹
٣. M.wekifidia.org.Https://ur
٤.حنیف خلیل ،په پښتونخوا کښي ترقي پسند شاعری تحقیقي او تنقیدي جائزه ، غزنوي کتاب پلورنځي کوئټه ، ۲۰۱۴ ، مخ 165
٥.زیار ، خالق ، ډاکټر، جګه شمله ، ملاکنډ ادبي اؤ کلتوري جرګه درګی ، ۲۰۱۹ ، مخ 280 --90
٦.یوسفزے ، محمد درویش ، ډاکټر ، لونګین ، جان پرنټنګ پرېس پېښور ، ١٩٩٧ء مخ80
٧.یوسفزے ، محمد درویش ، ډاکټر ، واورین ، ادبي دوستانو مرکه مردان ، فروري ٢٠٠٨ء ، مخ 24
٨.هم دغه اثر ، مخ 103
٩.یوسفزے ، محمد درویش ، ډاکټر ، لونګین ،مخ 10
١٠. هم دغه اثر ، مخ 107
١١. یوسفزے ، محمد درویش، ډاکټر، واورین مخ 128
١٢. هم دغه اثر ، مخ 118
١٣. یوسفزے ، درویش خان ، ډاکټر ، فخر افغان (نعتونه)، پښتونخوا پرنټرز اوکمپوزر شمسي روډ مردان ، جنوري ٢٠٠٦ء ، مخ 71
١٤. یوسفزے ، درویش خان ، ډاکټر ، زرغونه ،پښتونخوا پرنټرز اوکمپوزر شمسي روډ مردان، جنوري ٢٠٠٦ء، مخ 51
١٥. یوسفزے ، محمد درویش ، ډاکټر ، لونګین ، مخ 71
١٦. یوسفزے ، محمد درویش ، ډاکټر ، واورین ، مخ 19